# کاناډا په کابل ښار کې ځانمرګي برید وغنده

د اکتوبر 8 مه 2009

د کاناډا د بهرنیو چارو وزیر جلالتماب لورنس کانون نن دغه بیانیه په کابل ښارکي د هندوستان سفارت ته نږدې د ځانمرګي برید په اړه صادره کړه.

"کاناډا هغه ځانمرګي برید چې په کابل ښار کې د هندوستان سفارت ته نږدې ترسره شو او په پایله کې یو زیات شمیر ملکي افغانان ووژل شول او په لسګونو نور ټپیان شول، په کلکه غندي."

"زه د ټولو کاناډایانو په استازیتوب، ددې پېښې د قربانیانو کورنیو او ملګرو ته د خواخوږۍ او همدردۍ ژور مراتب وړاندې کوم ، او د پېښې ټپیانو ته د ژرترژره روغتیا هیله کوم. "

" دغه برید د دې ښکارندوی دی، چې شورشیان د افغانانو ژوند ته هیڅ ارزښت نه ورکوي، او هڅه کوي ترڅو پرې نږدې چې افغانستان یو خوندی، سوله اییز او ډاډمن هیواد شي."

"کاناډا د افغانستان د منتخب حکومت د غوښتني او د ملګرو ملتونود پریکړه لیک له مخې د ناټو د ماموریت په چوکاټ کې په افغانستان کې شتون لري. د کاناډا موخه د دیموکراسي د اساسي ارزښتونو، بشري حقونو او د قانون د تینګښت پر بنسټ د یوبا ثباته او ډاډمن هیواد په جوړولوکې د افغانانو سره مرسته ده."